Healthcare for refugees and people seeking asylum: Pashto

# د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره روغتیاپالنه

دا معلومات په انګلستان کې د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د روغتیاپالنې په اړه ورکړل شوي دي. دا د Macmillan لخوا هغه مرسته هم توضیح کوي چې په کېنسر د اخته کسانو لپاره وړاندې کیږي.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه پوښتنې لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کیږي هلته د خپل ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ د Macmillan د سرطان ملاتړ مرکز ته په **0808 808 00 00** شمېره 7 ورځې په اوونۍ کې، د سهار له 8 څخه تر ماښام 8 بجو پورې زنګ ووهئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې موږ ته زنګ وهئ، مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

په نورو ژبو کې د کېنسر په اړه په دې ادرس معلومات ترلاسه کړئ **macmillan.org.uk/translations**

## دا معلومات د لاندې مواردو په اړه دي:

- د انګلستان د روغتیاپالنې سستم
- که تاسو پناه غوښتونکي یاست، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه
- که ستاسو پناه غوښتنه ردول شوې ده، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه
- که تاسو کډوال یاست، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه
- روغتیاپالنې ته په لاسرسي کې مرسته
- Macmillan څنګه کولای شي تاسو سره مرسته وکړي
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او مننې

# د انګلستان د روغتیاپالنې سستم

په انګلستان کې د روغتیاپالنې زیاتره خدمات د ملي روغتیا خدمات (NHS) چمتو کوي. په NHS کې لاندې موارد شامل دي:

**د جي پي او ټولنې پراساس پاملرنه**
جي پي (عمومي ډاکټر) هغه ډاکټر ته ویل کیږي چې د عمومي روغتیا د ناروغیو درملنه چمتو کوي. جي پي ډاکټران معمولاً په محلي مرکز کې کار کوي. دا ډول مرکز په انګلیسی ژبه کې بیلابیل نومونه لري. دې ته بنایي یو GP practice, GP surgery یا medical centre وویل شي. له دې مرکز څخه معمولاً په ابتدايي توګه استفاده کیږي او د روغتیاپاملرنې د اړیکې لپاره مهم مرکز وي. د دغه مرکز کارکوونکي د ټولنې د نورو خدماتو سره له نږدې نه کار کوي، لکه، د ولسوالۍ نرسان او د معالجوي پاملرنې ټیمونه. ستاسو جي پي او ټولنیز خدمات د روغتیا د زیاتو ستونزو درملنه او مدیریت کوي. که تاسو څه ځانګړي درملنې ته اړتیا لرئ، نو هغوی یې ستاسو لپاره انتظام کولی شي. دې ته مراجعه کول ویل کیږي.

**د عاجل او بیړني حالت پاملرنه** - په دې کې دا لاندې شامل دي:

- د ژوند ګواښونکي شرایطو لپاره بیړنۍ مرسته که تاسو 999 ته زنګ ووهئ
- د پیښې او په اضطراري حالت (A&E) په څانګه، واک ان مرکز کې پاملرنه، د کوچنیو ټپونو په مرکز یا د بیړنۍ پاملرنې په مرکز کې پاملرنه.
- د روغتیا د عاجل ستونزو په اړه مشوره، که تاسو 111 ته زنګ ووهئ (په انګلستان، سکاټلینډ یا ویلز کې).

**متخصص پاملرنه**
د ځینو ناروغیو لپاره تاسو ممکن دې ته اړتیا ولرئ چې د ځانګړي روزنه لرونکي روغتیاپالنې د متخصص څخه مشوره یا درملنه ترلاسه کړئ. کله چې تاسو د ځانګړي درملنې لپاره په روغتون کې پاتې کیږئ، دې ته د داخلي ناروغ پاملرنه یا درملنه ویل کیږي. کله چې تاسو په کلینیک یا کور کې ځانګړي درملنه ترلاسه کوئ، دې ته د بهرني ناروغ پاملرنه ویل کیږي.

**فارماسستان**
فارماسستان ناروغانو ته درمل او د درملو په اړه مشوره چمتو کوي. هغوی ځینې طبي مشورې هم ورکوي.

**د غاښونو پاملرنه**
د غاښونو ډاکټران ستاسو سره مرسته کوي چې د خپلو غاښونو، اوریو او د خولې د نورو برخو پاملرنه وکړئ.

**د سترګو پاملرنه**
د سترګو ډاکټران د سترګو د نظر معاینه کوي. هغوی عینکې او کانټیکټ لینزونه تاسو ته په نسخه کې لیکي او لګوي. هغوی د سترګو د ستونزو، لکه د سترګو عفونت، په اړه درملنه او مشوره ورکوي.

د NHS روغتیاپالنه په ورته ډول وړیا وړاندې کیږي که تاسو:

- په انګلستان کې د پناه لپاره غوښتنه کوئ
- کډوال یاست.

## که تاسو پناه غوښتونکي یاست، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه

که تاسو په انګلستان کې د پناه لپاره غوښتنه کوئ، نو د NHS روغتیاپالنه د انګلستان د عادي وګړي په څیر په ورته ډول وړیا وړاندې کیږي، په داسې حال کې چې تاسو:

- د پناه لپاره غوښتنه کوئ
- د پریکړې په انتظار کې یاست
- د پریکړو خلاف مو استیناف کړی وي.

دا په دې مانا چې تاسو جي پي او د روغتون پاملرنه، او عاجل او غیرعاجل درملنه وړیا ترلاسه کولی شئ.

## که ستاسو پناه غوښتنه ردول شوې ده، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه

که ستاسو د پناه غوښتنه ردول شوې وي، نو تاسو ښایي بیا هم د NHS وړیا روغتیاپالنې ترلاسه کولو اجازه ولرئ. دا په دې پورې تړاو لري چې تاسو په انګلستان کې په کوم سیمه کې اوسیږئ.

**سکاټ لېنډ، والز او شمالي آیرلېنډ**
که په سکاټ لېنډ، والز او شمالي آیرلېنډ کې ستاسو د پناه غوښتنه رد کړل شوه، نو تر څو چې تاسو په دغه هیواد کې یاست، تاسو بیا هم د NHS وړیا روغتیاپالنې ترلاسه کولو اجازه لرئ.

**انګلستان**
که په انګلستان کې ستاسو د پناه غوښتنه رد کړل شوه، نو تاسو بیا هم د NHS وړیا روغتیاپالنې ترلاسه کولو اجازه لرئ، که چیرې تاسو د لاندې څخه مرسته ترلاسه کوئ:

- د کورنیو چارو وزارت، چې د برخه 4(2) مرسته بلل کیږي
- محلي چارواکی، چې سیکشن 21 یا برخه 1 مرسته بلل کیږي.

که تاسو دغه مرسته نه ترلاسه کوئ، نو بیا هم د درملنې هغه کورس ته وړیا دوام ورکولی شئ چې دمخه مو پیل کړی وي. که د روغتیاپالنې متخصص فکر وکړي چې تاسو سمدلاسه یا عاجل درملنې ته اړتیا لرئ، نو هغوی ستاسو درملنه کولی شي. ښایي ستاسو څخه وغوښتل شي چې پیسې تادیه کړئ، مګر د درملنې مخکې به تاسو پیسې نه تادیه کوئ.

په انګلستان کې د روغتیاپالنې ځینې بیړنې خدمات ټولو ته وړیا وړاندې کیږي. تاسو به هیڅکله د لاندې لپاره پیسې نه ورکوئ:

- د ژوند ګواښونکي شرایطو لپاره بیړنۍ مرسته که تاسو 999 ته زنګ ووهئ.
- د روغتیا د عاجل ستونزو په اړه مشوره، که تاسو 111 ته زنګ ووهئ (په انګلستان، سکاټلېنډ یا ویلز کې).
- د پیښې او په اضطراري حالت (A&E) په څانګه، واک ان مرکز کې پاملرنه، د کوچنیو ټپونو په مرکز یا د بیړنۍ پاملرنې په مرکز کې پاملرنه.

د روغتیاپالنې نور هغه خدمات چې تل د ټولو لپاره وړیا دي، په هغې کې دا لاندې شامل دي:

- د ځینې ډول عفونتونو او جنسي انتقالیدونکي ناروغیو ازموینه او درملنه.
- د امیندوارۍ د مخنیوي خدمات.
- د هغه شرایطو درملنه چې د ځورونې، تناسلي عضو لیرې کولو، او کورنې یا جنسي تاوتریخوالي لامله رامنځته شوې وي.

## که تاسو کډوال یاست، نو ستاسو د روغتیاپالنې حقونه

که تاسو په انګلستان کې د پناه لپاره غوښتنه کوئ، نو د NHS روغتیاپالنه د انګلستان د عادي وګړي په څیر په ورته ډول وړیا وړاندې کیږي. په دې کې د جي پي او د روغتون پاملرنه، او عاجل او غیرعاجل درملنه وړیا ترلاسه کول شامل دي.

## روغتیاپالنې ته په لاسرسی کې مرسته

که تاسو روغتیاپالنې ته په لاسرسي کې مرستې ته اړتیا لرئ، یا تاسو د روغتیاپالنې په اړه د خپلو حقونو څخه خبر نه یاست، لاندې موسسې درسره مرسته کولی شي:

- **مایګرینټ هیلپ**- وګورئ www.migranthelpuk.org یا په 0808 801 0503 د پناه دې وړیا هیلپ لاین ته زنګ ووهئ. په خپله ژبه کې د معلوماتو کتلو لپاره دا ویب پاڼه وګورئ www.migranthelpuk.org/Pages/FAQs/Category/translated-advice
- **د بریتانیې سره صلیب** - وګورئ www.redcross.org.uk/get-help/get-help-as-a-refugee یا په 0808 196 3651 د هغوی د وړیا مرستې شبکې ته زنګ ووهئ. په خپله ژبه کې د معلوماتو کتلو لپاره دا ویب پاڼه وګورئ www.redcross.org.uk/get-help/get-help-as-a-refugee/translated-pages
- **د کډوالو کونسل** - وګورئ www.refugeecouncil.org.uk د معلوماتو لپاره. که تاسو په انګلستان کې یاست، د هغوی وړیا انفولاین ته په 7272 196 0808زنګ ووهئ.

## د خپل ځان لپاره مناسب مراقبت او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښایي اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت باندې اغیز وکړي. اما ستاسو د روغتیاپالنې ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهیږو چې ځینې وختونه خلک ښایي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښایي د پیسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه اندېښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan مرستې وړاندې کوو. دغه یو ځلي تادیات دي چې د روغتون د پارکینګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بیلونو په شان شیانو لپاره استفاده ورڅخه کیږي.

زموږ د مرستې وړیا تلفوني کرښه **0808 808 00 00** کولای شي ستاسو د وضعیت په هکله، ستاسو په ژبه، تاسو ته لارښووني وړاندې کړي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د هوساینې د حقونو له مشاورینو او د کار د ملاتړ له مشاورینو سره خبرې وکړئ.

# Macmillan څنګه کولای شي تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهیږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ کرښه**

موږ ترجمانان لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه باندې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتنو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرسته په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانیستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00 شمېره زنګ ووهئ.**

زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. همدارنګه په **macmillan.org.uk/translations کې په نورو ژبو هم معلومات موجود دي**

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکزونه**

زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې موجود دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**

د ملاتړ په ګروپونو کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00 شمېره زنګ ووهئ.**

**د Macmillan آنلاین ټولنه**

تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

**له سرطان سره مبارزه کول**

- سرطان او کرونا وایروس
- په انګلستان کې د سرطان يا کېنسر پاملرنه:
- د ګټو غوښتنه کله چې سرطان لرئ
- د خوړلو ستونزې او سرطان
- د ژوند پای
- د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره روغتياپالنه
- سالم خوراک کول
- د سرطان په دوران کې د مصارفو مرسته
- که چيرې ستاسو د کېنسر ناروغی تشخيص کيږي
- LGBTQ+ خلک او سرطان
- سپيسپس او سرطان
- د سرطان د درملنې جانبي عوارض
- ستړيا (ستوماني) او سرطان

**د سرطان ډولونه**

- د سينې سرطان
- د رحم د خولې سرطان
- د لويو کولمو سرطان
- د سږي سرطان
- د پروستات سرطان

**درملنې**

- کيموتراپي
- راديوتراپي
- جراحي عمليات

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## مأخذونه او منني

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختيا د ټيم په واسطه ليکل او تحرير شوي دي. دا د ژباړې شرکت لخوا ستاسو په ژبه ژباړل شوې.

دا شامل شوي معلومات زموږ د درملنې د پريکړو د هغه محتوياتو پر اساس دي چې په انګليسی ژبه يا زموږ په ويب پاڼه موجود دي.

اړوند کارپوهانو دا معلومات کتلي او د Macmillan مرکز کلينيکي ماهرانو تصويب کړي.

له هغو خلکو څخه ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بياکتنه يې کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د هغو سرچينو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ يې کاروو، په مهربانی سره له موږ سره د **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** له لارې اړيکه ونيسئ

**محتويات بياکتل شوي: 2023 د بياکتنې لپاره ټاکل شوی راتلونکی کال: 2026**

MAC19723 Pashto

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ يې چمتو کوو دقيق او وروستي معلومات وي اما دا بايد ستاسو د وضعيت سره سم د مسلکي مشورې د بديل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځايه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر ډول معلوماتو د کارولو يا د دريمې ډلې معلوماتو يا په ويب کې د شامل شوو معلوماتو د کاروني مسئوليت په غاړه نه مني.

هيله لرو چې دا معلومات به ستاسو لپاره ګټه ور وي. که تاسو کومې پوښتنې لرئ، موږ د تليفوني لارې تاسو ته ستاسو په ژبه کې معلومات او مرسته وړاندې کولی شو. زموږ خدمات وړيا وړاندې کيږي. موږ ته په **00 00 808 0808** (دوشنبه-جمعه، سهار له 9 نه ماخوستن تر 8 بجو پورې) زنګ ووهئ او په انګليسی ژبه د خپلې خوښې د ژبې غوښتنه وکړئ.

د © Macmillan د سرطان ملاتړ 2023. په انګلستان او ويلز (261017)،
سکاټلند (SC039907) او Man ټاپو (604) کې ثبت شوی خيريه بنسټ. په شمالی ايرلنډ کې هم فعاليت کوي. ثبت شوی دفتر
89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

Trusted Information Creator
Patient Information Forum

Healthcare for refugees and people seeking asylum: Pashto

# Healthcare for refugees and people seeking asylum

This information is about healthcare for refugees and people seeking asylum in the UK. It also explains support available from Macmillan for people affected by cancer.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

## This information is about:

- The UK healthcare system
- Rights to healthcare if you are seeking asylum
- Rights to healthcare if you have been refused asylum
- Rights to healthcare if you are a refugee
- Help to access healthcare
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks

# The UK healthcare system

Most healthcare in the UK is provided by the National Health Service (NHS). The NHS includes:

**GP and community-based care**
A GP (General Practitioner) is a doctor who treats general health conditions. GPs usually work in a local centre. In English, this type of centre can have different names. It may be called a [GP practice], [GP surgery] or [medical centre]. This centre is often your first and main point of contact for healthcare. They work closely with other community-based services such as district nurses and palliative care teams. Your GP and other community-based services treat and manage many health problems. If you need more specialised treatment, they can arrange this for you. This is called making a referral.

**Urgent and emergency care** - This includes:

- emergency help for life-threatening conditions if you phone 999
- care at an accident and emergency (A&E) department, or other urgent care centre such as a walk-in centre or minor injuries unit
- advice about urgent health problems if you call 111 (in England, Scotland or Wales).

**Specialist care**
For some health conditions, you may need advice or treatment from a healthcare professional with specialist training. When you stay in hospital for specialist treatment, this is called inpatient care. When you have specialist treatment at a clinic, or at home, this is called outpatient care.

**Pharmacists**
Pharmacists give out medicines and give advice about taking medicines. They may also give some medical advice.

**Dental care**
Dentists help look after your teeth, gums and other parts of the mouth.

**Eye care**
Optometrists help test eyesight. They prescribe and fit glasses and contact lenses. They give treatment and advice for some eye health problems, such as eye infections.

NHS healthcare is free in the same way if you are:

- applying for asylum in the UK
- a refugee.

## Rights to healthcare if you are seeking asylum

If you are applying for asylum in the UK, NHS healthcare is free in the same way as an ordinary UK resident, while you:

- apply for asylum
- wait for a decision
- appeal any decisions.

This means you can have free GP and hospital care, and urgent and non-urgent treatment.

## Rights to healthcare if you have been refused asylum

If your asylum claim has been refused, you may still be allowed free NHS healthcare. This depends on the area of the UK.

**Scotland, Wales or Northern Ireland**
If you are refused asylum in Scotland, Wales or Northern Ireland, you are allowed free NHS healthcare for as long as you are still in the country.

**England**
If you are refused asylum in England, you are still allowed free NHS healthcare if you are getting support from:

- the Home Office, called section 4(2) support
- a local authority, called section 21 or part 1 support.

If you are not getting this support, you can continue any course of treatment you had already started, free of charge. If a healthcare professional thinks you need further immediate or urgent treatment they can give you this. You may be asked to pay, but you do not have to pay before the treatment is given.

Some emergency healthcare is always free to everyone in the UK. You never pay for:

- emergency help for life-threatening conditions if you phone 999.
- advice about urgent health problems if you call 111 (in England, Scotland or Wales).
- care at an accident and emergency (A&E) department, walk-in centre, minor injuries unit or urgent care centre.

Other healthcare services that are always free to everyone include:

- testing and treatment for some types of infections and sexually transmitted diseases
- contraception services
- treatment for conditions caused by torture, female genital mutilation, and domestic or sexual violence.

## Rights to healthcare if you are a refugee

If you are a refugee in the UK, NHS healthcare is free, in the same way as an ordinary UK resident. This includes GP and hospital care, and urgent and non-urgent treatment.

## Help to access healthcare

If you need help to access healthcare, or you are not sure of your rights to healthcare, the following organisations can help:

- **Migrant Help** - visit www.migranthelpuk.org or call their free asylum helpline on 0808 801 0503. To check for information in your language visit www.migranthelpuk.org/Pages/FAQs/Category/translated-advice

- **British Red Cross** - visit www.redcross.org.uk/get-help/get-help-as-a-refugee or call their free support line on 0808 196 3651. To check for information in your langage visit www.redcross.org.uk/get-help/get-help-as-a-refugee/translated-pages

- **Refugee Council** - visit www.refugeecouncil.org.uk for information. If you are in England, call their free Infoline on 0808 196 7272.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family it can be hard to find time to go to hospital appointments. You might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

We also offer Macmillan Grants to people with cancer. These are one-off payments that can be used for things like hospital parking, travel costs, childcare or heating bills.

Our free support line **0808 808 00 00** can offer advice, in your language, about your situation. You can speak to nurses, financial guides, welfare rights advisers and work support advisers.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use. We can help with medical questions, give you information about financial support, or be there to listen if you need someone to talk to. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We can also arrange translations just for you. Email us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community** You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

- Side effects of cancer treatment
- Tiredness (fatigue) and cancer

**Types of cancer**

- Breast cancer
- Cervical cancer
- Large bowel cancer
- Lung cancer
- Prostate cancer

**Treatments**

- Chemotherapy
- Radiotherapy
- Surgery

**Coping with cancer**

- Cancer and coronavirus
- Cancer care in the UK
- Claiming benefits when you have cancer
- Eating problems and cancer
- End of life
- Healthcare for refugees and people seeking asylum
- Healthy eating
- Help with costs when you have cancer
- If you are diagnosed with cancer
- LGBTQ+ people and cancer
- Sepsis and cancer

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated into this language by a translation company.

The information included is based on our treatment decisions content available in English on our website.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by members of Macmillan's Centre of Clinical Expertise.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk**

**Content reviewed: 2023 Next planned review: 2026**

MAC19723 Pashto

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up to date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third-party information or websites included or referred to in it.

We hope you find this information helpful. If you have any questions, we can give you information and support by telephone in your language. Our services are free. Just call us on **0808 808 00 00** (Monday-Friday, 9am to 8pm) and ask in English for your preferred language.

© Macmillan Cancer Support 2023. Registered charity in England and Wales (261017),
Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. Registered office 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

.

Trusted Information Creator

Patient Information Forum